SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونيزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريك مركزي نشراتي ارگان

دريم كال دوه ويشتمه گڼه پرله پسې (۱۲۲) چهارشنبه د ۱٤۱۸هق كال دذوالحجة الحرام (۲٦) ۱۳۷۷ هـ ش كال د غويي دمياشتي (۲) د۱۹۹۸ميلادي كال اپريل (۲۲)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وكړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډيـــر نـــږدې دى تقوا(پرهيزگـــارى) ته .

(سورة المائدة)

مردم مزار شريف در اثر جنگهاي ذات البيني مليشه ها متحمل خسارات مالي و جاني گرديدند

در اثر اين درگيريها شهريان بيدفاع و مظلوم مزار شريف در تلاش فرار به مناطق امن هستند

شهريان مزار شريف در اثر جنگ هاي داخلي مليشه هاي مستقر در آن شهر متحمل خسارات جاني و مالي گـــرديده اند.

طبق خبر هاي رسيده از شهر مزار شريف به دوام جنگهاي روز گذشته دو روز قبل هم بر خورد هاي شديد بين جناحهاي جنگ افروز وحدتي جنبشي و جمعيتي ادامه داشته و مناطق مربوط شهر كه هر كدام تلاش اشغال آنرا داشتند چندين مراتبه دست به دست گرديد.

در اثر اين دركـــيريها كه بخاطر كسب نفوذ و برتري نظامي در شـــهر بوقوع پيوسته و تعداد زيادي كشته و مجروح از خود بجاي گذاشته است، شهريان بيـــدفاع و مظلوم مزار شريف در تلاش فرار به مناطق امن هستند كه درين ضمن علاوه از تلفات و جـــراحات وارده برايشـــان امـــوال و اثاثيه منازل شـــان از طـــرف مليـــشه ها به تـــاراج برده شده است .

په افغانستان كې د اسلامي شريعت د تطبيق په ضد :

مسكو او ايران يو غير رسمي ائتلاف اعلان كړيدى

ايران په افغانستان كې د اسلامي شريعت د تطبيق او د اسلامي نظام د ټينگښت په ضد له سره استعمار او د اسلامي نړۍ له ستر دښمن مسكو سره لاس يو كړيدي

د نړيوالو خبري سرچينو د خبر له مخي د ايران د بهرنيو چارو د وزارت مرستيال علاؤ الدين بروجردي چې د همدې غرض لپاره يې مسكو ته سفر كړي وو له بېرته راستنېدو وروسته يې خبريالانو ته ويلي دي چې ما په مسكو كې د مسكو له لوړ رتبه مقاماتو سره كتلي دي او د افغانستان په اړه زموږ او د هغوي نظر سره ورته دي . خلورم مخ

مدرسه شهيد ملا اختر محمد در ولسوالي تروي ولايت پكتيكا افتتاح شد

مدرسه شهيد ملا اختر محمد اخيرا در ولسوالي تروي ولايت پكتيكا افتتاح و مورد استفاده قرار گرفت.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد: در مراسم افتتاح مدرسه متذكره بعد از آنكه اياتي چند از قران كريم تلاوت شد محترم مولوي عبدالقادر مدرس مدرسه متذكره و محترم مولوي عبدالغفور به نماينده گي از علما و مردم ولسوالي تروي در رابطه به نقش مدارس ديني در عرصه تعليم و تربيه فرزندان كشور و رسالت علما درين راستا ص«٤»

[illegible] او ابدالي ميزائيل به هم جوړوو

د پاكستان جمهور رئيس محمد رفيق تارړ

د پاكستان جمهور رئيس محمد رفيق تارړ ويلي دي چې د پاكستان حكومت [illegible] او د [illegible] په لاره كې د [illegible] لاندې را نه شي ده په [illegible] كړي چې د پاكستان د اقبال د [illegible] كي تر عنوان لاندي جوړه شوي وه په خپل خطاب كې ويلي دي چې موږ به نظام بدلوو ، سياست او ژوند ته به بيا كتنه كوو ده ويلي دي چې د اقبال فكر د جنوبي اسيا د هيوادونو په اوسيدونكو كي د بيداري احساس راژوندي كړ ده ويلي دي چې ټول مسلمانان دي يو خلورم مخ

مدرسه فيض المدارس ولسوالي ناوي افتتاح گرديد

مدرسه فيض المدارس ولسوالي ناوي ولايت غزني به تاريخ ۲۳ ذو الحجه افتتاح گرديد .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : در محفليكه بهمين مناسبت در آن مدرسه داير گرديده بود سخنرانان پيرامون تعليم و تربيه از ديدگاه دين مبين اسلام صحبت نمودند بعداً چند تن از استادان راجع به نحوه بهبود امور تدريس و مكلفيت هاي طالب العلمان سخنراني نمود.

از نوزدهمين سالگرد شهادت مظلومانه دسته جمعي ۱۲۰۰ تن از اهالي كنرها كه بدست كمونيست ها صورت گرفته بود تجليل بعمل آمد

اخيراً به گرامي داشت از شهادت يكهزار و دو صد تن از اهالي بيگناه ولايت كنرها كه در سال ۱۳۵۸ توسط كمونيستها طور دسته جمعي به شهادت رسيده بودند محفلي بزرگي به اشتراك مسوولين، علما، مجاهدين و جمع كثيري از اهالي آنولايت در شهر اسعد اباد مركز آن ولايت داير گرديده بود .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد محفل بعد از آنكه چند آيه از كلام الهي تلاوت گرديد نخست پيام محترم مولوي عبدالكبير معاون شوراي سرپرست و رئيس تنظيمه زون شرق كه به همين مناسبت ترتيب شده بود قرائت گرديد، متعاقبا محترم مولوي عبدالهادي اخند زاده والي و محترم مولوي فاضل رئيس محكمه مرافعه ولايت كنرها در رابطه به جنايات، مظالم و استبداد كمونيستان در دوران زمامداري شان كه باعث شهادت، معلوليت و مهاجرت مليون ها تن از هموطنان بيگناه ما و تخريب بخش اعظم از كشور گرديده است صحبت نمودند. شهادت ۱۲۰۰ تن از اهالي مجاهد و متدين ولايت كنر ها را كه در سال ۱۳۵۸ هـ ش بدست كمونستهاي خلقي و پرچمي صورت گرفته ص«٤»

د نارينه وسلي د استعمال په اثر :

په امريكا كې وژني ترټولي نړۍ ډيري دي

واشنگتن (اي كى اي)

د روغتيا په اداري پوري د اړوندو امريكايي مقاماتو وينا ده چې د ټوپكو، تمانچو او نورو وسلو په اثر د وژنو شمير تر ټولي دنيا په امريكا كې ډېر دي. په خــبر كې ويل شويدي چې په امريكا كې له هر يو لك نفرونه ١٤ تنه د ص«٤»

دكلنټن گريوان نه پرېږدم

پاولاجونز

پاولاجونز يا هغه ښځې چې دعوه نړي چې د امريكا جمهور رئيس بل كلنټن ورسره ناروا اړيكي درلودې يو خل بيا ويلې دي چې ددې په عفت بل كلنټن د تيري د دوسيي له تعقيب نه به هيڅكله لاس وانخلي او هغه ته به د خپلو اعمالو جزا وركوي .

پاولا جونز ويلي دي چې كه ره هسي له لاسه وركړم نو د الوځي ترې! قهرمانان به نور هم جرئت ومومي پاولاجونز ويلي دي چې دا د يوې ښځې مسئله نه بلكه د ټولو امريكا يي ښځو مسئله ده .

جلسه كميته امور بين المللي كميسيون مبارزه عليه مواد مخدر داير گرديد

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : در اين جلسه كه يك عده از روساي وزارت خانه ها و ارگانهاي ذيربط اشتراك نموده بودند سكرتر جنرال آن كميسيون روي پاليسي و خط مشي امارت اسلامي افغانستان در خلورم مخ

هم اكنون ۲۸ هزار اطفال و جوانان در شهر كابل تگدي مينمايند

آژانس خبري اسوشيتد پرس

اين امار به سه سال قبل ارتباط ميگيرد

«كالن» مسوول موسسه T.D.H (اطفال در معرض خطر) در كابل

آژانس هاي خبري نبايد در خدمت كفر بين المللي و اداره هاي به خصوص كه در صدد ايجاد ذهنيت هاي منفي عليه امارت اسلامي افغانستان ميباشند قرار گيرند

هفته نامه شريعت

خوانندگان محترم! دوشنبه شب هفته گذشته شانزدهم ذوالحجة الحرام كه مصادف بود به بيست و چهارم حمل ۱۳۷۷ هـ ش راديو صداي امريكا ساعت ۷:٤٥ شام در سرويس خبري دري خويش گزارشي را به قول آژانس خبري اسوشيتد پرس ص«۲»

يكمقدار سلاح و مهمات از مربوطات شهر ترينكوت ولايت ارزگان به دست آمد

تعداد سلاح و مقادير مهمات از مربوطات شهر ترينكوت مركز ولايت ارزگان كشف و بدست آمد.

آژانس اطلاعاتي باختر از ولايت ارزگان خبر ميدهد سلاح و مهمات متذكره شامل يك ميل تفنگچه، يكصد فير مرمي توپ ۸۲ ملي متري، سي فير مرمي راكت، ۱۱ عدد بم دستي و مقادير مهمات مختلف النوع ميباشد كه به اثر سعي و تلاش منسوبين امنيتي قومانداني امنيه ولايت ارزگان از مربوطات شهر ترينكوت بدست آمده است .

منطقه قول آبچكان نيز از نعمت برق بهره مند گردد

اهالي قول آبچكان

بعد از به پيروزي رسيدن تحريك اسلامي طالبان كرام در شهر كابل تغييرات و تحولات گوناگون در عرصه هاي سياسي، اقتصادي و اجتماعي در رابطه به بهبود سطح زنده گي و امنيت مردم و شهريان كابل بوجود آمد. كه از آن جمله جريان برق در نقاط مختلف شهر از طرف مسوولين وزارت محترم آب و برق با وصف امكانات محدود قابل توصيف و تمجيد مي باشد.

قابل ياد آوريست كه در منطقه قول آبچكان مربوط ناحيه دوم شهر كابل كه در دامنه كوه آسمايي كه بنام «كوه تلويزيون» شهرت يافته است در حدود هزار ها خانواده كم توان و بي بضاعت زيست نموده و هم چندين دستگاه توليدي صنايع كوچك از قبيل توليد يخ، وركشاپ هاي [illegible] الات اره كشي [illegible] قرار داشته و تا كنون [illegible] جريان برق محروم مي باشند . [illegible] متذكره [illegible] ص«٤»

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

شرطونه دي كه پلمي ؟

اوس د هيڅا شك پاتي نه دي چي غرب او د هغه نمايندگي (ملكري ملتونه) له اسلام سره پخه دښمني لري، چيري هم د داسي يو نظام برداشت او تحمل نه شي كولي چي هغه پوره اسلامي وي او د اسلامي شريعت ټول حكمونه عملي كول غواړي؛

له كومي ورځي نه چي د افغانستان د طالبانو اسلامي تحريك د جهاد د هدفونو د تحقق، اسلامي شريعت د عملي كولو، د مفسدينو، متحرقينو او ملحدينو له منځه وړلو نه د خپلو باتورو، ديندارو او مجاهدو هيوادوالو د ژغورني لپاره د قربانيو ډگر ته راووتل هغه وخت د اسلام غربي او شرقي دښمنانو دا باور نه كاوه چي يوه ورځ به دغه د تقوي او اخلاص لښكري د خپلو بې سيما قربانيو په بركت د خپل هيواد په سلوكي له اتيا نه زياته برخه له قاتلانو، غلو، پاټكيانو او لوټمارانو نه پاكه، امن او اسلامي نظام به پكښي ټينگ ، د هيواد خپلواكي، ځمكني بشپړتيا او خپلواكه حكومت به جوړ كړي نو ځكه به يي هغه وخت كله د امنيت په ټينگولو، وسلو ټولولو، چور او تالان په ورك كولو خوشبيني او كله به يي بيا د الهي نظام د قانونو له ويري بدبيني ښكاره كوله او بد تبليغات به يي كول؛ مگر كله چي د الله تعالي د شريعت د پتنگانو سپيڅلي لښكري په ټول هيواد كي راخوري شوي مفسدين او د هيواد والو د سر ، مال او عزت دښمنان يي د الله تعالي په مرسته له يوه مخه جارو كړل، د هيواد پايتخت او د هيواد د اداري واگي يي په لاس

دوهم مخ

بحرين قطر را به جعل كاري در اسناد متهم نموده است

بحرين در منازعه ارضي با قطر انكشور را به جعل كاري اسناد متهم نموده است .

اسناد مذكور مجموعاً هشتاد دو قطعه بوده كه به محكمه بين المللي ارائه گرديده اند.

شيخ محمد بن مبارك الخليفه وزير خارجه بحرين در بيانيه ايكه در پايتخت انكشور انتشار يافت گفته است كه قطر بار اول هشتاد و يك سند را در ماه نومبر ۱۹۹٦ و هشتا دو آن را در ماه دسمبر ارائه داشته كه اسناد مذكور به كمك ده تن از ماهرين بين المللي مطالعه و جعلي ثابت گرديده اند.

په تركيه كې د نوي قانون په ضد دريني مظاهري تر سره شوي

په دې قانون كې په ښځو د اسلامي لباس په اغوستلو بنديز لگيدلي دي

د نړيوالو خبري سرچينو د خبر له مخې د تركيي حكومت په ښوونځيو ، پوهنتونونو او نورو ادارو كې د اسلامي حجاب په اغوستلو [illegible] ښځو سخت بنديز لگولى دي. د تركيي حكومت ويلي دي چې كه څوك يي ماتوي په پوهنتون يا ښوونځي كې [illegible] په سر كړ نو سخته جزايه وركړل شي.

په خبر كې ويل شويدي چې د حكومت ددي فيصلي په خلاف په ټوله تركيه كې د مسلمانانو قهر او غوسه را پاريدلي ده او په مظاهرو او لاريونونو يي لاس پوري كړيدي مظاهره كوونكو په حكومت غږ كړيدي چې خپله دا غير اسلامي او له انصاف نه لېري فيصله بيرته واخلي ځكه دا د اسلامي شعايرو سپكاوي دي خو حكومت خلورم مخ

شريعت

دامتياز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحريك
دتاسيس كال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليكوال هيئت ترنظر لاندي
مسؤول مدير : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستيال : ملا أسد الله «حنيفي»
ديوي ګڼي بيه : په هيواد كي (۱۰۰۰) افغاني پهپاكستانكی(۳) كلداری
پوست بكس : (٤٧١)
په پيښور كي : دطالبانونمايندګیټيلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱٥۷-۸۱٥٦۲۷
جاري حساب : $\frac{٤٠٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مركز
چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

کي ونيول هله يې باور راغی چي دغه تحريک اسلامي غښتلي ځواک دي هغسي اسلامي شريعت به جاري کوي لکه په صدر اسلام او راوروسته ځلانده پېړيو کي چي ؤ او د تېرې له تورو تاريکو پرګنو نه يې د جهل، ناپوهي او زورواکي تياري د علم، عدل او اسلام وروروولي په رڼا له منځه ويوړې، په دغه وخت کي يې بشپړه تګي برګي پيل کړه، د افغانستان د اسلامي امارت په خلاف يې بد تبليغات له سره راونيول او دغه لړۍ لا په زور او شور سره روانه ده، د افغانستان اسلامي امارت که هر څومره په اسلامي اخلاقو او نرمښت له دوي سره اړيکي ټينګول غواړي، هر څومره يې که بشري برباد شوي حقونه - لکه د سرونو، مالونو او عزتونو ژغورل- را ژوندي کړي دي او هر څومره يې که د هيواد په سلو کي له اتيا نه په زياته برخه کي د جګړې او روږلي او سېبونه يې له منځه وړي دي او هر څومره يې که د رسميت پيژندني شرطونه په ځاي کړي دي مګر ملګري ملتونه او غرب په دي واړو هيڅ حساب نه کوي بلکي بدتبليغات کوي او د بشري حقونو په نامه دا يو رنګه تکراري خبري کوي، په شړل شوي رباني او د هغه په يې باوره اندېوالانو باندي حساب کوي او په خندني توګه هغه په رسميت پيژني؛ که د اسلامي امارت مخالفين هر څومره په خلکو ظلمونه او ناروا وي کوي، هر څومره که د مرستندويه موسسو ګودامونه، دفترونه او استوګنځي چور کوي ملګري ملتونه لا بيا هم ډېر څه نه وايي او ځني کارکوونکي يې د مرګ له خطر سره سره هلته کار کوي، خو که د اسلامي امارت تر لاس لاندي سيمو کي له زيات امنيت او د کار او فعاليت له ښو شرايطو مساعدولو سره سره کمي ستونزې را ولاړې شي دوي بيا سم لاسي په دغه پلمه دفترونه تړي او کارکوونکي باسي؛ که څه هم دغسي ستونزې په اساني سره د تفاهم له لارې حل کيداي شي خو دوي لومړې پلمي کوي او تفاهم ته غاړه نه ږدي، که هغه ومني او اسلامي امارت د ځينو ملحوظاتو له کبله نه غواړي چي د سيستاري غوندي افراد د تفاهم په غونډه کي برخه واخلي، دوي بيا په دغه پلمه له تفاهم نه بيخي ډډه کوي او د هغسي افرادو په شامليدلو ټينګار کوي؛

د داسي بوي نړيوالي اداري لپاره چي څومره تحمل، بردباري، نرم څنګ، حکمت او تدبير مناسب دي ددغي اداري ځيني کارکوونکي هغه له پامه غورزوي په پلمو او شرطونو پوري هر څه تړي، د افغانستان خلک او د هغو اسلامي امارت په داسي کار ډېر تاسف کوي، متل دي چي وايي « که ياري نه کړې پلمي ډېري دي » .

مګر بيا هم د افغانستان اسلامي امارت به له دي واړو سره سره له دغي نړيوالي موسسي او ټولو خيريه موسسو سره په امدادي کارونو کي مرسته کوي، دفترونه، استوګنځي او مالونه به يې ساتي، د کار کوونکو په سلامتي به يې پوره پام کوي د اسلامي او افغاني رواياتو مراعات ته به يې پام را اړوي بې قيد او شرطه مرستوته به يې په درنه سترګه ګوري.

پټې پاڼې

شهرت ننګيال

د جوګي نسخه (دريمه برخه)

زما استادجي اوس هغه پخواني تاراسائين نه دي پاتي زموږ کمال اصلاً په چالاکي کي دي، نه دي دي اوريدلي «نه سحر است نه جادو، چالاکي دست است.»

خو استاجي له هغي پخواني چالاکي پاتي دي، ځکه خوبي په ډېر احتياط په ويره ويره تر سپينو زره بيني عينکو لاندي جمهور رئيس ته کتل، زړه مي ؤ چي ورته ووايم : خپل کار کوه دا مهماتما ګاندي، جواهر لعل نهرو او ذاکر حسين نه دي چي د هندوستانيانو په زړونو حکومت کوي خو دده په ذهن کي چي د ولس مشر کوم تصوير او تصور پروت ؤ هغه زما پر يو دوو اشارو نه شواي ليري کيداي.

په ريښتيا چي ځواني نه راګرځي د استادجي هغه دماکه خيزه ځواني او هنرنمايي چي د ټول هندوستان او حتي جنوبي اسيا عاملين يې ترنګين لاندي و و د ماضي يو خوب او خيال ګڼل کيږي .

سړي پدي شکمن شي چي د نن يو موټي محتاط تاراتين د پرون هغه هدور تاراسائين وګڼي چي د سرکسونو مالکان به يې د هنر په قيمت په ورځو ورځو په چنو اختنه وو ځکه د سرکس کاميابي په حقيقت کي د تاراسائين د لاسونو برکت ګڼل کيده .

د خپل استاد له بې زړه توب او احتياط نه مي زړه تنګ شو، ماويل دريغه دده پر ځاي مي خپل جمبوري راسره مل کړي واي چي په نيمه خبره څه چي په نيمه اشاره هم پوهيد.

ما د افغانانو د تاريخ په اړه لږ او ډېره مطالعه کړي وه او د احمد شاه ابدالي ډېر غلونو په اړه راته د هندوستان پرون او د تېرونکو ذهنيت څرګند ؤ.

د ګندا سنګ تاريخ، د رابندرنات ټاګور «کابلي والا» شهکار مي لوستي او د «خداګواه»فلمکالمي‌مي‌لااوس‌هم پهيادي:

ميرا نام بادشاه خان ہے ، مين کابل سے ايايوا ايک پٹهان ہو ...

خو اوس د هغو ټولو پر خلاف له يوه بل حقيقت سره مخامخ وم .

د همدغو خاطرو او يادونو په کشمکش کي مي پخپل سي لاس د جمهور رئيس لاس ونيو په نبض مي يې ګوتي کيښودي او خپلي پخواني کانديټو ګړي ته مي کتل.

زبدة الحکماً ، فاضل الطب والجراحات حکيم اجمل خان به چي د چانبض کوټ نو يو

رئيسه نژدي ټول ورسره قلع وي، ددغه ناروغي علاج کيداي شي خو پر له پسي درمل او رياضت غواړي د ناروغي عمده عامل د هلکتوب او ځوانيدوختيي‌احتياطي‌ګڼل شي.

د جمهور رئيس د لاس ځرمن تکه سپينه او ناز که وه، ما په ټول هندوستان کي داسي وريښمينه ځرمن نه وه ليدلي ، سره لدي چي عمر يې (۶۰) ته نژدي معلوميده او د ډېرې ويښتان يې تکسپين‌ؤخوجلديي‌تازه‌اوځوان‌ؤ.

«نور علم» د لاس له کرښو پرته پر بدن د نورو نخښو او خاپونو په مرسته د راتلونکي په اړه باوري معلومات ته لاسه کولي شي يو ځل مي له ځان سره غوڅه کړه چي جمهور رئيس ته د لپ لغړ کيدو وړانديزوکړه خوله آزار نه يې وويريدم .

جمهور رئيس په ريښتيا هم پروفيسر ؤ، د ککري ويښتان يې لکه د جواهر لعل نهرو د پوهنتون د کار کښته پروفيسرانو په ځير

عجيبه پوځ به يې نيولي ؤ ، ما هم هوبهو همغه اکت تمثيل کړ .

د جمهور رئيس نبض ډېر چټک ؤ، خو د ويني جريان يې ډېر بطي معلوميده، اوس زه دده په مردانه کمزوري او پوشيده ناروغيو بيخي باوري شوم، دا ډېره نامراده ناروغي ده ، سر بيره پر جنسي ستونزو د اعصابو ضعف هم ورسره تړلي وي او د بدن اعضاي

ريږدلي وو، د ريږدليو ويښتانو د زرغونيدو مجربه نسخه مي د ژبي پر سروه ځکه خو ما د خپل مطب پر لوحه د «ګرتے بالوں کا شرطيه علاج» ټکي ډېر ځلند او په سر کي ليکلي ؤ خو ډېر ژر مي احساس کړه چي جمهور رئيس له ويښتانو سره دومره علاقه نه لري،

د هندوستان ستر ليډر مهاتما ګاندهي

چي ناروغ ؤ نو دوستانو يې ټينګار کاوه چي د پوهو او متخصصو ډاکترانو يو ټيم ورته راوبولي خو دده نظر دا ؤ چي اوس خو له يوي ناروغي کړيږم خو ډاکتران به مي په نورو ناروغيو او انديښنو هم واړوي جمهور رئيس هم زموږ له لاسپښوروولاتجوواوښت

زه اعتراف کوم چي د مردانه کمزوري ناروغي په هندوستان او پاکستان کي يو تجارت ګرځيدلي په چا چي د روزګار نوري دروازې وتړل شي نو د مردانه کمزوري د علاج کلينک پرانيزي او خلک په شلونورو نارو غيو هم واړوي.

په هندوستان کي خو په اصطلاح ددغه رنځ طبيبان دومره ډېر شوي چي د لارې په سر بي هم مجمع غوړولي وي، لارويو ته ګوري چي د چا ځيره لږ زمولیدلي وګوري ورته غږ کړي او بيايي د وخته په دام کي نښلولي وي. دغه ګڼکپانو ماهر طبيبان هم بدنام کړي او د هغوي رسوخ او اعتبار ته يې صدمه رسولي ده .

ماته چي خپل استاد د لومړي ځل لپاره د فعاليت سند او اجازه راکړه نو د ډيلي د «لال کلاتر» مخ ته مي مجمع ولګوله، خلک راټول شول خو زه نا ببره يوي پټي ويري ونيولم، خو له مي له ځو خبرو سره وچه شوه، په همدي مهال راته چاد قطن مرغه کالبوت پټم کړ، ايله مي دري نيمي کلداري ټولي کړي شوي، نژدي وه چي د خلکو د ريشخند شم، ژمي ؤ خو زه په خولو کي لوند خيشت وم، تاراپسائين چي له کومي ګوښي ځارلم لکه بريښنا راورسيد او زما پرده يې وکړه بګوان دي دده پرده پوښ شي.

نن راته د جمهور رئيس په وړاندي هغه صحنه سترګوته ودريده خو د خپل استاد وارخطايي‌اواحتياطرا‌تهډنمنلو‌کيسمبکاريده.

نوربيا

کورني فقه

قاضي محمد حسن «حقيار»

دوهمه برخه (۲٤)

په اسلام کي د نسل د مخنيوي حکم

خو جمهور علماء بيا د ابن حزم له نظر سره مخالف دي دوي وايي چي داسي ډېر روايات شته چي يې له کوم ابهام او شبهي نه صراحتاً له رسول الله «ص» نه په کي صحابه و ته د عزل د اجازي روايت شويدي. او دا نه کوم اضطراري حالات وو او نه کوم استثنايي حکم وو، په ډېرو رواياتو کي حتي په خپله د رسول الله «ص» له خولي دا دعوه رد شويده چي ګويا عزل وأد الخفي دي د بيلګي په ډول ابو سعيد الخدري روايت کوي چي (ان رجلاً قال يا رسول الله ان لي جارية و انا أعزل عنها و انا اکره ان تحمل و انا اريد مايريد الرجال وان اليهود تحدث ان العزل الموؤدة الصغري قال « کذب اليهود لواراد الله ان يخلقه ما استطعت ان تصرفه » ابو داؤد احمد ، نسايي، طحا وي.

يعني يو سړي رسول الله «ص» ته عرض وکړ چي أي د خداي رسوله زه يوه وينځه لرم او زه له هغي سره په کوروالي کي عزل کوم او زه دا خوښ نه ګڼم چي هغه حمل واخلي زه له هغي نه هغه څه غواړم چي نور نارينه يې غواړي «يوازي خوند» او يهوديان وايي چي عزل د اولاد د پټ وژلو کوچني ډول دي نو رسول الله «ص» وفرمايل « يهود دروغ وايي که الله «ج» وغواړي چي (کوچني) پيدا کړي نوته نه شي کولي چي مخه يې ونيسي)

په سبل السلام کي د همدي حديث په شرحه کي ليکي: يعني الله «ج» به د عازل د عزل له اجرائه مخکي په غير شعوري او غير ارادي ډول د هغه مني خارج کړي .

حضرت جابر «رض» روايت کوي چي : « کانت لنا جوار و کنا نعزل فقالت اليهود تلك الموؤدة الصغري فسئل رسول الله «ص» عن ذالك فقال کذبت اليهود و لو اراد الله خلقه لم تستطع رده» سبل السلام د نسايي او ترمذي په حواله

يعني : موږ وينځي درلودلي او موږ به له هغوي سره عزل کاوه نو يهوديانو وويل چي دا په پټه د اولاد وژلو يو ډول دي بيا رسول الله «ص» په دي هکله وپوښتل شو نو هغه «ص» وفرمايل چي « يهود دروغ وايي که الله«ج» د هغه د پيدايښت اراده کړي وي نو ته يې بيرته ګرځولي نه شي » حتي رسول الله «ص» غوښتل چي د خلکو له اذهانو نه دا تصور چور لټ ليري کړي چي ګويا د عزل په واسطه د حمل مخه نيول کيږي . احمد او بزاز له انس نه روايت کوي او ابن حبان هم صحيح ګڼلي دي چي (ان رجلاً سأل عن العزل فقال النبي «ص» « لو ان الماء يکون منه الولد ا هر قته علي صخرة لا خرج الله منه ولدا » يعني :(يو سړي له رسول الله «ص» نه د عزل په هکله وپوښتل نو رسول ورته وفرمايل چي « که چيري له دي اوبونه کوچني وي او ته يې په تيږه توي کړې نو الله به بيا هم ترې کوچني وزيږوي » نو له دي او داسي نورو ډېرو رواياتو ځرګنديږي چي عزل جايز دي او دا د اولاد په پټ وژلو کي نه راځي. دا هم کېدلي شي چي دا احاديث د جذامي«رض» د حديث لپاره د ناسخ حکم ولري ځکه چي ډېرو صحابه و عزل کاوه او هيڅ هم ترې بد نه منل.

او ځني خلک چي عزل مکروه ګڼي نو په فقه السنه کي ليکي چي له مکروه نه مراد خلاف الاولي دي او ددي مثال په مسجد کي د ناست سړي سکوت دي يعني څوک چي په مسجد کي چپ ناست وي او عبادت نه کوي نو فقهاء وايي چي دا کار مکروه يعني خلاف الاولي دي .

له ظاهريانو پرته د مذهب ټول امامان په دي اتفاق لري چي د ضرورت په وخت کي د نسل مخنيوي روا دي که دا د عزل په صورت کي وي او که د دواګانو او يا نورو وسايلو د استعمال له لارې وي.

خو حنفي علماء له اصيلي ښځي سره په جماع کي د عزل لپاره د ښځي موافقه شرط بولي.

د حنفي فقهي په معتبر کتاب ردالمحتار علي الدرالمختار کي ليکي چي که سحه اصيله وي نو له هغي سره په عزل کي ددي اجازه او موافقه ضرور او شرط ده او که ښځه وينځه وي نو له اجازي پرته يې هم عزل روا ده . ځکه چي وينځه له اولاد يا حمل سره بده ښکاري او ښه نه خو حيري او اصيله ښځه خو د اولاد حق هم لري او په خوند کي هم شريکه ده . درالمختار جلد ۲ ص ٤۱۲ سبل السلام جلد ۳ ص ۱٦۹

خو فقيه علي ابن موسي وايي چي د نطفي خنثي کول روا نه دي. نوموړي وايي چي په حج کي په احرام کي د الوتونکو دهګيو ماتول ځکه کفاره لري چي دا خپله د الوتونکي د وژلو حکم لري يا په بل عبارت خپله مارغه هم له همدي هګيو ځخه زيږيږي همدا ډول منيهم‌کوچنی‌دزيږيدلو‌باعث‌منبعوده.درالمختار

ځرنګه چي خاوند ته روا نده چي د ښځي له موافقي پرته عزل وکړي همدا راز ښځي ته هم روا نده چي د خاوند له اجازي او موافقي پرته د حمل له ويري د خپل رحم خوله بنده کړي که څه هم د طبي علاج له لاري وي همدا ډول ښځي ته نه ده روا چي (بې له رښتوني عذره) د خاوند له موافقي پرته داسي وسايل استعمال کړي چي د حمل مخه ونيسي.

نو د پورتني تحقيق په رڼا کي ويلي شو چي د کوچني د بدن له جوړښت نه دمخه د حمل مخنيوي په هر حال روا دي خو د کوچني د بدن له جوړښت نه وروسته بيا خبره بل ډول ده .

بخش سوم

مبارزه فقيه مشهور اسلام «رح» سعيد بن جبير «رح» در مقابل مظالم و جنايات حجاج

حق و باطل هميشه در زنده گي و اجتماع انسان وجود داشته و هکذا انسانها هم به دو گروه حق پرست و حق خواه و باطل پرست تقسيم گرديده اند . حق پرستان غرض حاکميت حق و عدالت و باطل پرستان غرض حاکميت باطل ، جور و ظلم مصروف پيکار و مبارزه بوده اند و هر يك در مسير خود ايثار و فداکاريها داشته اند.

صفحات تاريخ اسلام هم از همچون وقايع و مبارزات ياد آوريهاي داشته و نشان داده است که هيچ دين و مکتب به اندازه اسلام مقابل باطل ظلم و جور ترزميده و حساسيت نشان نداده است و هيچ قوم و ملت به اندازه مسلمان و مؤمن مخلص مقابل ظلم، جور و استبداد جهاد و مبارزه نکرده است به خصوص در اين پيکار و کارزار علماء حقاني، فقهاء و دانشمندان‌اسلامی‌نسبت‌بهمه‌پيش‌قدم‌وسر حلقه بوده اند.

دوران حکمراني حجاج در تاريخ اسلام يك دور پر از ظلم و جفا بوده است و تعداد کثيري از علما و دانشمندان اسلامي در آن دوره سياه قربان گرديده اند. جهاد و مبارزات فقهاء، علماء و دانشمندان اسلام در مقابل زعامت جابرانه حجاج نهايت آموزنده و مخلصانه بوده که ما در اينجا جهاد و مبارزه تابعي جليل القدر و فقيه مشهور اسلام حضرت سعيد ابن جبير را که دانشمند مشهور جناب دکتور يوسف قرضاوي به رشته تحرير در آورده است بدست نشر ميسپاريم تا باشد که مشعل راه حق طلبان مقابل جابره و ظالمان شود.

«اطاقيست کوچك.در يکي از زندانها که سه تن از فقهاي بزرگ : عامر شعبي، مطرف بن عبدالله و سعيد بن جبير در آن زنداني اند» .

شعبي : مطرف ! اين صبح چه‌تحفه‌داري؟

مطرف : خواب نهايت خوبي ديدم، و تعبيرش کردم که ازين زندان تاريك رهايي خواهم يافت .

سعيد : «با اعتراض» خير و فضيلت هميش با رهايي از زندان همراه نيست، بلکه خير و فضيلت هميشه در ثبات و استواري در حق است، مگر از حکايت يوسف «عليه السلام» اطلاع نداريد، زمانيکه ميان فحشاء و زندان مخيرش گردانيدند، زندان را برتري داد و فرمود : «پروردگارا! زندان بهتر است بمن از آنچه مرا بسويش فرا مي خوانند.»

شعبي : اما اي ابو عبدالله، تنها مسئله زندان نيست، مسئله ذبح و کشتار است .

سعيد : مهم نيست خدا ميگويد :

و اگر کشته شديد در راه خدا يا مرديد، هر آئينه آمرزشي از خدا، بخشايشي بهتر است از آنچه جمع مي کنند.

مطرف : آيا ميخواهي گردنت را تسليم آن اهريمان ستمگر کني که نه از خدا مي ترسند و نه رحمي به بندگانش دارند.

سعيد :« در حاليکه به سرش اشاره ميکند» چه ارزش دارد اگر اين سر از تن جدا شود، « با عنف و شدت» مگر فراموش نموديد که آنها از شما چه ميخواهند؟ آنها ميخواهند که شما اعتراف کنيد که از جمله خوارج و مارقين هستيد، و همه تان بخاطر عصيان و قيام در برابر خلافت کافر شديد، آيا بکفر اعتراف مي کنيد؟

شعبي : گر ضرورت بود روا باشد، خداوند فرموده :(مگر آنکه دفع شر ايشان کنيد بنوعي از حذر کردن) .

سعيد : و تو بگو اي مطرف، آيا در پيشگاه حجاج اين اهريمن ستمگراعتراف‌بهکفرمی‌کني؟

مطرف : ابو عبدالله! بخاطر نجات، بر سبيل توريه داخل لفافه حرف مي زنم و از پاسخ صريح فرار مي کنم، تو نيز چنين کن.

سعيد : سر سعيد در مقابل سر هاي پيامبران، صديقان، شهيدان و صالحان چه ارزشي دارد مگر فرستاده خدا حضرت ذکريا«ع» با اره دو نيم نشد؟ مگر يحيي را بعد از محاصره سر نبريدند؟ مگر از پيامبر اکرم «ص» روايت نمي کنيد که : بهترين جهاد گفتن سخن حق در پيشگاه حکمرواي ستمگر است؟ مگر عمر و عثمان و علي و حسين (رضي الله عنهم) به ظلم و ستم شهيد نشدند، مگر اين همه وقايع را فراموش کرديد و به طاق نسيان گذاشتيد؟

شعبي : برادرم سعيد! حقّ با توست، اما ميداني‌که من نيز سخن حق را گفتم و بخاطر تحققش پيکار کردم و شمشير از نيام برکشيدم و طوريکه ديدي اراده خدا به اين حال رفته است، بناً مجبور صبر مي کنم، تا فرصت ديگر ميسر شود و شرايط ديگر آماده گردد .

سعيد : اما من سخن حق و سنگر حق را ابداً ترك نگفته و با حق زندگي مي کنم و با حق مي ميرم در برابر ستمگري هاي ستم پيشه‌گان‌قيام‌می‌کنم‌وجبلتم‌خودنمی‌شکنم.

مطرف : فرض کن تو سخن حق را روز يکبار با صراحت لهجه گفتي، آيا ظلم و جبروت و طغيان اهريمنان ستمگر و جابر پايان خواهد پذيرفت و مسئله بکدام حل خواهد شد ؟

شعبي : نه، هرگز، سعيد بن جبير اين دانشمند و فقيه بزرگ عصر در خواهد گذشت و سرش از تن جدا خواهد شد، اما حجاج اين طاغوت ستمگر و رژيم ظلم و شکنجه و تعذيب باقي خواهد ماند.

سعيد: « با غضب» مگر اين چه حرف است که از شما مي شنوم، آيا دانشمنداني چون شما نيز اينطور فکر ميکنند، بمن بگوئيد در کدام يك از ادوار تاريخ و اعصار گذشته، حرص به زندگي، هدف پيامبران و وارثانشان بوده ؟ سوگند بخدا هر قطره خونيکه در راه حق از شهيد مي ريزد و خاك را گلگون ميکند، زمين را زير پاي ستمگران به لرزه و حرکت مي آورد. درين شك نيست که رژيم طغيان و نظام ظلم مدتي دوام ميکند، اما پايه هايش سست و لرزان بوده و از آرامش خاطر محروم است.

آري! من يقين کامل دارم که درخت نيرومند اسلام را جز اين خونهاي پاك شهدا، چيز ديگري آبياري نمي کند، تنها خون است که نويد پيروزي اسلام ميدهد

«سخنان قاطع و لهجه صريح سعيد در شعبي و مطرف تاثير وارد ميکند».

شعبي : ابو عبدالله! پوزش ميخواهم، اصلاً حريص حيات تو، بخاطري هستيم که يك جمع رهرو، و يك امت بزرگ از تو نفع مي برند و همه مردم به علم تو و دانش تو سخت محتاج اند.

سعيد : شعبي ! طوريکه مردم محتاج اند تا فقه و علوم ديني برايشان تدريس شود، هم چنان ضرورت به کسي دارند تا درس ثبات و پايداري و قيام در برابر طواغيت و ستمگران را نيز برايشان بياموزد.

مطرف : ميدانيم، مقامت بالاتر از ما و برداشتت از دين وسيع تر از ماست، برادرم شعبي! بگذارش سوگند بخدا من آثار شهادت را در جبينش مشاهده ميکنم.

سعيد : «بگو هرگز نرسد بما، مگر آنچه نوشته است خدا براي ما اوست کار ساز ما، و بر خدا بايد توکل کنندمسلمانان».

« زندانبان دروازه را باز ميکند و سه نفر همراه دارد، هر سه تن داخل اطاق ميشوند، دروازه بسته مي شود و سکون و آرامش حکمفرما ميگردد »

« يکتن از نو آمد ها سکوت و آرامش اطاق را مي شکند و به نزد دانشمندان زنداني ميرود، رويش را بطرفمطرفبن‌عبدالله نمودهميگويد»:

مرد : خدا اجرت دهد، در مسئله اي فتوي ميخواهم .

مطرف : اين دو شخص امامان و فقهاي کوفه اند، از اوشان فتوي بخواه.

مرد :آنهاکيستند،رحمت‌خدابرتوباد.

مطرف : اين شخص سعيد بن جبير و آن ديگرش عامر شعبي است .

سعيد : و خودش‌مطرف‌بن‌عبدالله

مرد : لا حول و لا قوة الا بالله علما و دانشمندان ما زنداني و تعذيب ميشوند و فاسقان ستم پيشه در عيش و نوش مشغول اند، خدايا! تو رحم کن.

مرد رويش را به سعيد گردانده و مي پرسد: اي امام ! من سوگند ياد کردم که زنم بر من سه طلاق اگر حجاج در آتش نسوزد، آيا زنم طلاق ميگردد؟

سعيد:ازشعبي‌بپرس‌برايت‌جواب‌ميدهد.

مرد : « بسوي شعبي روي مي گرداند چه نظر داريد ؟

شعبي : اگر حجاج بعد ازين همه ظلم و ستم و جنايت به جنت برود، براي تو نيز باکي نيست که با زن مطلقه ات، بحرام زندگي کني.

مرد : خدا اجرت دهد، سينه ام سرد ساختي و از تشويش نجاتم دادي.

مرد ديگر : برايم بگو اي امام، حجاج کافر است يا مؤمن؟

شعبي : « با تمسخر » مؤمن!

همان مرد : « با

ص «٤»

از فرهنگ اصطلاحات عسکري
تعريفات و اصطلاحات عمومي تکتيکي و مسلکي

سيستم آتش : عبارت از آتش قبلاً حاضر شده کثيف بالعموم وسايط آتشدار است در پيشروي خط اصلي در جناحين و در عمق مدافعه و همچنان تمرکز دادن آتش ها در يك استقامت مهم و خطرناك در مدت کوتاه است . سيستم آتش بايست با سيستم موانع هم آهنگ گردد .

مدافعه : مدافعه دو نوع است : ۱- مدافعه احضار شده ۲- مدافعه عاجل

مدافعه احضار شده : عبارت از مدافعه يست که در ظرف چند ساعت و يا چند شبانه روز با انکشاف و حاضر نمودن سيستم حاضر شده خندق ها ، خندقهاي ارتباط، مواضع آتش ، پرسونل و وسايط آتشدار، تانك ها ، توپچي، هاوان ها و غيره هم آهنگي و ترامييت مدافع انجنيري در پارچه هاي مساعد اراضي تأسيس گرديده باشد.

مدافعه عاجل : عبارت از نوع مدافعه است که لحظه قبل از آغاز محاربه و يا در جريان فعاليت محاربوي ، تحت تأثير ترصد و آتش دشمن بدون انکشاف مواضع آتش پرسونل ، اسلحه و وسايط، تخنيك محاربوي، سيستم خندق ها و خندق هاي ارتباط و سيستم موانع تأسيس ميگردد. مدافعه عاجل ، تدريجاً با استفاده از زمان هاي مساعد و خاليگاه ها و وقفه هاي محاربه بمدافعه احضار شده تبديل ميگردد .

محاربهء تصادفي : عبارت از نوع محاربه يي است که طرفين متخاصم ميخواهند توسط تعرض بالاي يکديگر وظيفه محاربوي خود را انجام بدهند. مقصد از محاربه تصادفي امحاي دشمن تصادف شده و اشغال يك خط مساعد براي انکشاف فعاليت محاربوي متعاقب مي باشد. در شرايط کنوني احتمال تصادف و مواجـه شدن به محاربه تصادفي خيلي ها زياد است .

مانور: حرکت مشق و تمرين : عبارت از حرکت سريع و اشغال، نمودن يك وضعيت مناسب و مساعد نسبت به دشمن است . بمقصد وارد کردن يك ضربه، شديد و امحاي دشمن. مانور بايد سريع، مستور، ناگهاني و در وقت و زمان تثبيت شده صورت گيرد. و در صورت عدم .مراعات خصوصيات متذکره مانور، ماهيت خود را از دست داده فقط سبب ضياع زمان و سبب ضياع انرژي پرسونل ميگردد.

زمونږ مجاهد اردو د اسلامي او ملي ارزښتونو ساتونکي

جهاد به د قيامت تر ورځي روان وي

الحديث

د اردو تخنيك او ترانسپورت ته پاملرنه

د افغانستان د اسلامي اردو د ځواکونو وسايط لکه چي څرنګه لازمه ده د ځينو خلکو له خوا سمه ګټه تري نه اخيستل کيږي او ډير بي رحمانه سلوك ورسره کيږي اکثره چلوونکي وسايط له ټاکلي سرعت نه زيات تيز چلوي چي دغه کار ددي سبب کيږي چي هم خپله چلوونکي ، سورلي او هم په خپله واسطه له منځه لاړه شي چي دغه رنګه ځاني او مادي ضايعات ددي سبب کيږي چي د افغانستان اسلامي اردو تصفيوي عمليات له خنډ او ځنډ سره مخامخ کړي. د کابل ښار يا په نورو سرکونوکي ليدل کيږي چي د اردو د ځواکونو موټرونه په ډيره تيزي باندي بي له کوم مجبوريته حرکت کوي او زياتي ترافيکي ستونزي او پيښي رامنځته کوي . داسي موټر هم ليدل کيږي چي ټکر بي کړي دي او داسي څوك نه شته چي موټر ورکشاپ ته يوځي او بايي کوم بل ټاکلي ځاي يا قطعي ته ورسوي او بوه خرابه منظره يي تشکيل کړي وي چي د هر ليدونکي زړه بري دردېږي تر اوسه پوري هغه واسطه چي په دري ځلور زره لکه اخيستل شريده او ټکر شوي ده په چلوونکي نه تاوان شوي او نه د هغه نه چا ددغه ټکر په باب کوم تحقيق کړي دي دا چي نومړو واقعيتونو په درك کولو سره د ملي دفاع وزارت تخنيکي معاونيت فيصله کړي چي د اردو ټول وسايط سجل شي دا يو ډير نيك او پر ځاي کار دي دا ځکه چي له يوي خوا به د وسايطو سره احتياط کيږي او له بلي خوا به د پيښي مجرم کس پيدا کيږي او د قانون سره سم چلند به ورسره کيږي او د قانوني مراحلو د تيرونو وروسته به يي واسطه ترميم کيږي او ترسم به يي په سجل کي د پخوا په څير معامله کيږي او په مجموع کي به د اردو په جګړه ييز چمتو والي کي د وسايطو له درکه نيمګړتيا نه را منځته کيږي له بلي خوانه په کار ده چي د ملي دفاع وزارت تخنيکي معاونيت د وسايطو د استعمال په باب د کال په مختلفو موسمونو کي په قطعاتو کي موټر چلوونکو ته ګټوري مشوري ورکړي او د يو ټاکلي هيأت له خوا د ټولو موټر چلوونکو نه د پخوا په څير د ترافيکي مقرراتو سره سم ازموينه واخلي او د قانون سره سم دي لايسنس ورکړي.

اردو از دوره ابدالی ها تا سقوط سلطنت ظاهر شاه

پيوسته به گذشته

